JUGENDAMT

KREIS VIERSEN



# KITA-ONLINE

## د ماشومانو د ورځنۍ پاملرنې مرکز یا د ماشومانو ورځنۍ پاملرنه کې د نوم لیکنې اړوند پورټال

## د TPF-ONLINE له لارې د ماشومانو ورځنۍ پاملرنې او ساتنې (Kindertagespflege) کې د پاملرنې د منل کېدو ظرفیت لپاره نوم لیکنه

TPF-ONLINE

که تاسې غواړئ خپل ماشوم د ماشومانو ورځنۍ پاملرنه کې ثبت کړئ، نو پدې صورت کې مهرباني وکړئ د پاملرنې د لیوالتیا وړ کچه بیان کړئ او خپل معلومات وړاندې کړئ. علاوه لدې باید د ډېټا څخه د حفاظت بیان سره موافقت وشي.

د دې لپاره چې وکولی شئ د اړتیا اعلام بشپړ کړئ، وروسته له هغې یو برېښنالیک ترلاسه کوئ چې د فعالولو یو لنک پکې شامل وي چې تاسې يې باید په 72 ساعتونو کې تایید کړئ.

په ښارونو او اړوند سیمو کې د ماشومانو ورځنۍ پاملرنه کونکو ځای کې (د مرکز مدیران) شتون لري چې تاسې ته د ماشومانو د ساتنې او ورځنۍ پاملرنې په اړه او همدارنګه ستاسې ځای کې د ماشومانو فعال ورځني پاملرنه کونکو په اړه معلومات وړاندې کوي. تاسې د هر یوه ځای د مرکز مدیران پشمول د هغوی د تلېفون شمیرې د Viersen ولسوالۍ انټرنیټي سایټ کې په **www.kreis-viersen.de/kindertagesbetreu-ung** کې موندلی شئ.

د لیوالتیا په صورت کې ستاسې ځای کې د ماشومانو ورځني پاملرنه کونکو سره اړیکه ونیسئ، د ملاقات وختونه ورسره همغږي کړئ او پرېکړه وکړئ چې ستاسې ماشوم باید د ماشومانو کوم ورځني پاملرنه کونکي سره د پاملرنې لاندې اوسي.

که تاسې د ماشومانو ورځنۍ پاملرنه کونکی فرد پیدا کړی وي، تاسې کولی شئ نوموړی فرد د خپلې اړتیا اعلام د تفصیلاتو برخه کې ذکر کړئ یا ستاسې اړوند تخصصي مشورې ته د برېښنالیک له لارې معلومات ورکړئ. که تاسې خپل ماشوم په Kita-Online (د ماشومانو ورځنۍ پاملرنې آنلاین مرکز) کې د TPF له لارې نوم لیکنه کړی وي، د خپلې شخصي تخصصي مشورې څخه د غوښتنې اسناد او د شخصي خبرو لپاره د ملاقات یو وخت ترلاسه کړئ.

**نور معلومات په آنلاین پورټال "Guter Start Kreis Viersen" (د Viersen ولسوالۍ ښه پیل) کې دلته موندلی شئ: unter:guterstart. kreis-viersen.de**

## اړیکه

د Viersen ولسوالۍ د ماشومانو د ورځنۍ پاملرنې مرکز (KiTa) کادر د لاندې شمېرې له لارې خورا لیوالتیا سره تاسې ته مشوره درکوي:

**O2162 39-1677**

یا د برېښنالیک له لارې دې پتې ته:

**kita-online@kreis-viersen.de**

تاسې همدارنګه کولی شئ د Kita-Online د پیل پاڼه کې د مکرر پوښتل کېدونکي پوښتنو (FAQ) برخه کې د مکرر پوښتنو ځوابونه هم ومومئ.

**د ژباړو لپاره مهرباني وکړئ QR کوډ سکین کړئ.**


KREIS VIERSEN

Jugendamt
Rathausmarkt 3 | 41747 Viersen
www.kreis-viersen.de



Herausgeber: Kreis Viersen - Der Landrat
Druck: Druckzentrum Kreis Viersen
Stand: Mai 2024
Fotos: ©www.clipdealer.com #A8404252

# د KITA-ONLINE له لارې د ماشومانو د ورځنۍ پاملرنې مرکز کې د پاملرنې د منل کېدو ظرفیت لپاره نوم لیکنه پورټال

## KITA-ONLINE څه شی دی؟

د KITA-ONLINE پورټال له لارې تاسې کولی شئ په Brüggen، Grefrath، Niederkrüchten، Schwalmtal او Tönisvorst سیمو کې خپل ماشومان د ماشومانو ورځنۍ پاملرنې مرکز یا د ماشومانو ورځنۍ پاملرنه کې د منلو ظرفیت لپاره نوم لیکنه کړئ.

## د دې لپاره څه شي ته اړتیا لرئ؟

تاسې د کمپیوټر، ګرځنده تلیفون یا ټابلیټ له لارې انټرنیټ ته لاسرسي ته اړتیا لرئ. که چیرې انټرنیټ ته لاسرسی نلرئ یا اړیکه ټینګولو کې مشکل لرئ، په خپل ځای کې د ماشومانو د ورځنۍ پاملرنې (KiTas) مرکزونو یا د ماشومانو د ورځنۍ پاملرنې مرکز کادر ته رجوع وکړئ (د ارتباط برخې ته رجوع وکړئ).

## پورټال څنګه کار کوي؟

د خپلې سیمې انټرنیټي سایټ یا د Viersen ولسوالۍ انټرنیټي سایټ څخه اړوند لنک ته د KITA-ONLINE پورټال ته مراجعه وکړئ.

Gemeinde
KINDERTAGESBETREUUNG

Bedarfsmeldung für einen Kinderbetreuungsplatz

in einer Kindertageseinrichtung »»
in der Kindertagespflege »»

پدې پورټال کې تاسې دا امکان لرئ چې د ماشومانو د ورځنۍ پاملرنې یوه مرکز یا د ماشومانو ورځنۍ پاملرنې کې د پاملرنې د منل کېدو ظرفیت لپاره د اړتیا د اعلام ترمینځ انتخاب وکړئ.

په دوام کې د نوم لیکنې دواړه لارې تشریح کېږي.

KITA-ONLINE

ستاسې شاوخوا د لټون له لارې د ماشومانو ورځنۍ پاملرنې هغه مرکزونه انتخاب کړئ چې تاسې ته مناسب دي. د ماشومانو د ورځنۍ پاملرنې هر مرکز اړوند تفصیلاتو برخه کې نور معلومات مومئ. تاسې کولی شئ **د ترجیحاتو له مخې تر درې پورې مرکزونه د خوښې وړ پیل نیټې او مودې** (په اونۍ کې 35 یا 45 ساعتونه) سره اعلام کړئ. بیا خپله ډیټا زیرمه کړئ او د ډیټا څخه محافظت بیانیې سره موافقت وکړئ. د اړتیا د اعلام بشپړولو لپاره وروسته بیا د فعالولو لنک سره د تایید یو برېښنالیک ترلاسه کوئ چې باید په 72 ساعتونو کې یې تایید کړئ.

**تر کوم وخت پورې باید خپله اړتیا اعلام کړو؟** د ماشومانو ورځنۍ پاملرنې مرکز اړوند کال لپاره – د اګست په 1 نېټه د پاملرنې د منل کېدو ظرفیت لپاره – باید خپل د اړتیا اعلام تاسې د تیر کال تر نومبر 14 نېټې پورې په KITA-ONLINE کې ثبت کړی وي. تاسې کولی شئ په دومره اړونده موده کې خپل د اړتیا اعلام بدل کړئ. تل د 15 نومبر څخه تر 14 جنورۍ پورې د ورکتون د پیل کال څخه مخکې تاسې نشئ کولی د KITA-ONLINE پورټال کې ثبت شوي موارد بدل کړئ. د 15 جنورۍ څخه کولی شئ بیاځل له سره پدې پورټال کې نوم لیکنه وکړئ ترڅو وګورئ چې آیا د ماشومانو ورځنۍ پاملرنې مرکز د منل کېدو ظرفیت لپاره مو مثبت ځواب ترلاسه کړی.

## څه وخت ځواب ترلاسه کوئ؟

د ماشومانو د ورځنۍ پاملرنې مرکز هغه مدیریت چې مثبت ځواب مو ترې ترلاسه کړی وي، هغوی تاسې سره اړیکه نیسي. د هغه ماشومانو په اړه چې تر هغه وخت پورې یې د ماشومانو ورځنۍ پاملرنې مرکز د منلو ظرفیت لپاره مثبت ځواب نه وي ترلاسه کړی، د مارچ تر اخر مودې پورې د ماشومانو ورځنۍ پاملرنې مرکزونو کې یې نور اقدامات ترسره کېږي. که چیرې تر اپریل پیل پورې لا هم مثبت ځواب ترلاسه نکړئ، د (Kreisjugendamt) برخې د ځوانانو اداره د هغوی سره اړیکه نیسي.

## څنګه کولی شم خپل ورکړې معلومات بدل کړم؟

ستاسې شخصي ډیټا کې بدلون پشمول د ترجیحي ورځنۍ پاملرنې مرکزونو کې بدلون د لومړنۍ نوم لیکنې وروسته ممکن دی. کله چې تاسې لومړی ځل نوم لیکنه وکړئ تاسې به د والدین ننوتلو یا لاګ این لپاره د لاسرسي معلومات ترلاسه کړئ. په پورټال کې د نښې له لارې نوم لیکنه کوئ. دلته تاسې د لاسرسي ډیټا ترلاسه کولو وروسته په 48 ساعتونو کې هغه برېښنالیک چې تاسې د نوم لیکنې لپاره کارولی او لنډمهاله پاسورډ کاروئ. وروسته لدې چې له تاسې وغوښتل شو یو نوی او دایمي پاسورډ جوړ کړئ، اوس کولی شئ د نوم لیکنې ټوله ډیټا وګورئ او بدلون یې راوړئ او همدارنګه نور ماشومانو نوم لیکنه مو وکړئ او د اړوند نوم لیکنو وضعیت تعقیب کړئ.

مهم:

**ستاسې د پام وړ مرکزونو سره دمخه شخصي پېژندنه هم ضروري ده!**

د همدې لپاره د مدیرانو سره د اشنایی لپاره د ملاقات یو وخت همغږی کړئ. د ماشومانو د ورځنۍ پاملرنې مرکز د منلو ظرفیتونه پخپله د ماشومانو د ورځنۍ پاملرنې مرکز لخوا د هغوی اړوند د منلو معیارونو له لارې ټاکل کېږي. د پام وړ پاملرنې مرکز د منلو ظرفیت لپاره د اړتیا اعلام کوم تضمین نه دی.